شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

امارت اسلامی افغانستان

مـوږ د اسـلامي امـارت ټولـو مسـؤلینو تـه د اللـه تعالـی لـه دربـار څخـه توفیـق غـواړو، چـي لـه خپلـو او ستاسـو غونـدي ځوانانـو لـه اسـتعدادونو څخـه د هیـواد پـه جوړونـه کـي ګټـه واخـلي، د مالیـې وزارت سـتونزي حـل کـړي، مسـلکي اداره رامنځتـه کـړي او ګـران افغانسـتان تـه پرمختـګ ورکـړي.
د مالیې وزیر الحاج ملا محمد ناصر اخند

چهارشنبه | د صفرالمظفر ۲۱-۱٤٤٥ / د وږي ۱٥-۱٤۰۲ / د سپیتمبر ٦-۲۰۲۳ / دوهم کال / ٦٤ ګڼه / ٤ مخیز



## سرمقاله

### نگاهی بر عملکرد شرکت های دولتی در دو سال اخیر

طبق صریح ترین تعریف از شرکت دولتی در ماده نهم قانون شرکت های دولتی ارائه شده؛ شرکت دولتی به واحد اقتصادی گفته می شود که دارای شخصیت جداگانه از مالکان سهام آن بوده و مطابق به احکام قانون دارای سرمایه مشخص و منقسم به سهام بوده و مسئولیت هر سهامدار محدود به سهم وی می باشد. همچنان در شرکت دولتی بایستی حد اقل بیست و پنج (۲۵) درصد مربوط یکی از ادارات دولتی به شمول ادارات محلی باشد یا زمانیکه ادارات دولتی به شمول ادارات دولتی محلی بدون درنظرداشت سهم آنها در سرمایه شرکت بالای شرکت کنترول داشته باشد.

در دو سال پسین هیئت رهبری ریاست عمومی شرکت های دولتی در همکاری و هماهنگی با رهبری وزارت مالیه سیاست های حمایتی از شرکت ها را مورد غور و مداقه قرار داده و فعالیت دوباره شرکت های را با توجه به نظارت بیشتر، هماهنگی بهتر و مشوره دهی از سر گرفت. هم اکنون که از میان ۴۲ شرکت و ۱ تصدی دولتی ۳۲ شرکت تحت چتر وزارت مالیه مستقیما فعالیت می نماید، رویکرد حمایتی و سیاست نظارتی ریاست عمومی شرکت های دولتی باعث گردید که در کمتر از دوسال حدود ۱۲ شرکت دولتی مجدداً فعال شوند و تولیدات شانرا به بازار عرضه نمایند که یک گام مهم و یک دستاورد چشمگیر به سطح دولت به حساب می رود.

علاوتاً از میان ۳۲ شرکتی که هم اکنون به صورت مستقیم تحت چتر مدیریتی وزارت مالیه فعالیت دارند، ۸ شرکت فعالیت اساسی ندارد و مصارف و معاشات کارکنان شانرا از طریق فعالیت های غیر تجارتی مانند به کرایه سپردن جایدادهای مازاد ضرورت خویش تأمین می نمایند. بخش تجارتی ریاست عمومی شرکت های دولتی روی طرح های اصلاحی کار نموده است و با اجرایی کردن آن قرار است که از میان ۸ شرکت غیر فعال ۵ شرکت آن در آینده های نزدیک دوباره به فعالیت آغاز نمایند. افزون بر آن مطابق دیدگاه بزرگ دولت افغانستان، شرکت های دولتی که فعالیت کردن آن مطابق به نیازمندی های عصر جدید نباشند و سهم قابل ملاحظه ای در رشد اقتصادی کشور نداشته باشند جواز فعالیت ها لغو گردیده و شرکت ها منحل می شوند. از ابتدای تحولات تا اکنون ریاست عمومی شرکت های دولتی بر مبنای این پالیسی فعالیت شرکت های دولتی صنایع محابس، شرکت دولتی میوه کندهار و شرکت هوایی باختر را متوقف نموده و ۳ شرکت نامبرده را منحل کرد.

در بخش ارزش گذاری شرکت های دولتی نیز اقدامات اصلاحی زیادی به میان آمده است، بعد از قیمت گذاری مجدد دارایی های منقول و غیر منقول ۱۶ شرکت دولتی بیش از ۴۵ میلیارد افغانی افزایش به عمل امده است که یک دستاورد بسیار بزرگ به سطح حکومت به شمار می رود.

ادامه :ص۲

## د یو شمېر ولایتونو مستوفیتونو ته نوي مستوفیان معرفي سول




د افغانستان اسلامي امارت د مالیې وزارت د ځانګړو وړاندیزونو او حکمونو پر بنسټ د نورستان، دایکنډي، هلمند، پنجشېر، میدان وردګ، ارزګان، بادغیس، بامیان او فراه ولایتونو د مستوفیتونو لپاره نوي مستوفیان معرفي سول. د عوایدو عمومي ریاست د رهبرۍ د غړو له لوري د یوه رسمي سفر په ترڅ کي په پرلپسې ډول، ښاغلی مولوي محمد امیر فیضاني د نورستان ولایت، مولوي ګل احمد حنیفي د دایکنډي ولایت، حاجي نعمت الله مغیره د هلمند ولایت، ښاغلی مولانا محمد نور حقجو د پنجشېر ولایت، ښاغلی مولوي عبدالاحد ذوالفقار د میدان وردګ ولایت، ښاغلی مولوي عتیق الله خالد د ارزګان ولایت، ښاغلی مولوي عبدالبر اثري د بادغیس ولایت، ښاغلی مولوي محیب الله منیب د بامیان ولایت او ښاغلی مولوي شفیع الله فائز (بهرام ګل) د فراه ولایت لپاره د نویو مستوفیانو په توګه د اړوندو ادارو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول.

د یادوني وړ ده، چې په مستوفیتونو کي تغیيرات او بدلونونه د چارو د ښه مدیریت او د ړنو عوایدو را ټولولو په موخه ترسره کېږي، چې تر دې وړاندي هم په ځینو ولایتونو کي ورته تغیيرات او بدلونونه ترسره سوي وه.

## د کابل – شهرنو د تېلو دولتي ټانک پرانیستل سو







د مالیې وزارت اړوند د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت له لوري د کابل - شهرنو د تېلو دولتي ټانک د یو لړ مراسمو په ترڅ کي په معیاري ډول پرانیستل سو. په دې مراسمو کي د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت رئیس انجنیر محمد نصیر رحیمي، د دولتي شرکتونو لوی رئیس مولوي عبدالحمید اخندزاد، د کابل ولایت استازي عبدالحلیم حلیمي او د افغانستان د اسلامي امارت یو شمېر نورو چارواکو او مسؤلینو ګډون کړی وو.

انجنیر محمد نصیر رحیمي (انجنیر حسن) د تېلو د ټانکونو د کړنلاري په اړه معلومات ورکړل او زیاته ئې کړه؛ له بده مرغه په تېرو دولتونو کي د تېلو د ټانکونو د معیاري کولو لپاره کومي واضحي کړنلاري شتون نه درلود، خو اوس مهال مو ورته هر اړخیزه او معیاري کړنلاره ترتیب کړې، چې بشپړ خوندیتوب او نور معیاري مسایل په پام کي ورته نیول سوي دي.

مولوي عبدالحمید اخندزاده، د خپلو خبرو پر مهال وویل، چي افغانستان په تېرو ۳۰ کلونو کي له فقر او بدبختۍ سره مخ وو، ځکه په تېرو حکومتونو کي بې کفایته، فاسد او بې تقوا کسانو ته چاري ور سپارل سوي وې. په دې نظام کي (اسلامي امارت) ایمانداره او د هیواد ابادۍ ته ژمن کسان په دندو ګمارلي او د ځان بسیاینې لپاره صادقانه خدمت کوي.

همدا راز عبدالحلیم حلیمي وویل، چي د افغانستان اسلامي امارت د بیا واکمنۍ په دوه کلنه موده کي بنسټیز کارونه ترسره سوي دي او د برحاله خادمو چارواکو په هڅو به د ډېرو پرمختګونو شاهدان و اوسو.

د یادوني وړ ده، چي په هیواد کي د تېلو ۸۰ سلنه ټانکونه غیرمعیاري او ګواښوونکي دي، د نفتو او ګازو دولتي شرکت هڅه کوي، چې د باکیفیته نفتي موادو په عرضه کولو، د تېلو د ټانکونو په کنټرول او معیاري کولو سره دغه ستونزه حل کړي.

## د محبسونو صنایع دولتي شرکت د انحلال په تړاو د مالیې وزارت خبرتیا!

**د محبسونو صنایع دولتي شرکت د افغانستان د اسلامي امارت د ریاست الوزراء محترم مقام د حکم او د چارو اداري د (۵۱۷۲) شمېرې لیک پر اساس منحل سو. هغه اشخاص، دولتي اداري او شرکتونه، کورني او بهرني بنسټونه چي له یاد شرکت سره کومه معامله، قرارداد او یا کومه ادعا لري، د خبرتیا له نېټې (۱۷/۲/۱۴۴۵) څخه تر ۵۱ ورځو پوري دې د زندانونو د تنظیم ریاست ته، چې د تصفیې پلاوي په دفتر کي شتون لري، مراجعه وکړي، د خبرتیا د مودې له پای ته رسېدو وروسته ئې موضوع د بررسۍ وړ نه ګرځي.**



د مالیې وزارت مالي معین د ستري محکمې له اداري مرستیال سره وکتل

م ۲




په مالیې وزارت کي د دولتي شرکتونو د ارزوني دربیم پړاو هم ترسره سو

م ۲



په افغانستان کي د پانګوني لپاره موجوده فرصتونه

م ۳



له مالیې وزارت سره د آشنا کېدو او مدیریتي روزنیز پروګرام (نویو ګمارل سویو کارکوونکو) فارغینو ته تصدیق پاڼي ورکړل سوې

م ۲



د ګمرکونو لوی ریاست د مرکزي دفتر کارکوونکي له امتیازي معاش پرته یو ساعت اضافه کار کوي

م ٤




اقلام عمده صادراتی نظر به وزن از تاریخ ٤ الی ۱۰ سنبله به اساس سیستم اسیکودا

م ٤

شتمني
SHTAMANAI
اوونیزه

**ادامه سرمقاله**

از سوی دیگر تطبیق اصلاحات مالی در شرکت های دولتی باعث گردیده است که عواید شرکت های دولتی طی دول سال اخیر رشد قابل ملاحظه ای داشته باشد، هم اکنون عواید حاصله از درك مالیات و مازاد مفاد در شرکت های دولتی از دو میلیارد افغانی به بیش از چهار میلیارد افغانی افزایش داشته که به حساب دولت انتقال یافته است. افزون بر آن بر مبنای تطبیق پالیسی های مشخص در اثر همکاری و همآهنگی ریاست عمومی شرکت های دولتی با سائر ارگان های ذیربط جایداد های شرکت های دولتی از چنگ غاصبین رها گردیده و به نفع دولت مسترد شده است که تا اکنون بیش از (۱۹۰۰۰) جریب زمین شرکت های دولتی از غصب خلاص و به نفع شرکت های دولتی مسترد گردیده است. ریاست عمومی شرکت های دولتی اصلاحات یاد شده را بسنده نمی داند و بالای برنامه های جامع کارها جریان دارد تا بر اساس دیدگاه کلان رهبری وزارت مالیه و ریاست عمومی شرکت های دولتی، تمام شرکت ها را به صورت تدریجی احیا و مجدداً از طریق و شیوه های مدیریت مرکزی و همکاری وزارت مالیه با پشتوانه مکمل دولت و سکتور خصوصی به رشد پایدار ملی و اشتغال زایی و خود کفایی مالی نقش بزرگ خویش را بر مبنای اقتصاد اسلامی گام های موثر را تعقیب نمایند. به عنوان جمع بندی نهایی باید گفت که وضعیت و سرنوشت شرکت های دولتی امروز با سیاست های حمایتی دولت گره خورده است، طوریکه معلوم است شرکت هاي دولتي بخش قابل توجهي از بودجه سالانه کشور را به خود اختصاص مي دهند. تقویت این شرکت ها جدای از اینکه بودجه جاری ملی کشور را تقویت می نماید، باعث از بین رفتن انحصار در بازار و عامل ایجاد فضای کار و رقابت با سکتور خصوصی می شود و مارکیت را در تنظیم نرخ های بازار کمك می نماید.

# د ماليې وزارت مالي معين د ستري محکمې له اداري مرستيال سره وکتل



د ماليې وزارت مالي معين حاجي عبدالقدير احمد د ستري محکمې له اداري مرستيال شيخ عبدالمالك حقاني سره په خپل کاري دفتر کي وکتل. په دې کتنه کي چي د ماليې وزارت د بوديجې لوی رئيس حبيب الله سباوون او د ستري محکمې يو شمېر مسئولينو هم حضور درلود، د معاشاتي او مصرفي حوالو، د اداري او خدماتي مامورينو د اضافه کارۍ، د قاضي صاحبانو د سفرونو لپاره د تېلو پر تدارك او نورو اړوندو موضوعاتو په برخه کي له مستوفيتونو سره د ولايتي محکمو پر ستونزو بحث او خبري اترې وسوې. له مستوفيتونو سره د ستري محکمې د منصوبينو د ستونزو د حل پرېکړې راتلونکي ناستي ته وځنډول سوې.

## له ماليې وزارت سره د آشنا کېدو او مديريتي روزنيز پروګرام (نويو ګمارل سويو کارکوونکو) فارغينو ته تصديق پاڼي ورکړل سوې

د ماليې وزارت د بشري سرچينو رياست د يو لړ مراسمو په ترڅ کي د ګمرکونو او عوايدو لويو رياستونو (۱۵۵) نويو ګمارل سويو فارغينو ته له ماليې وزارت سره د آشنا کېدو او مديريتي روزنيز پروګرام پای ته رسولو وروسته تصديق پاڼي ورکړې. په دې مراسمو کي چي د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمۍ احمدشاه ابدالي تالار کي تر سره سوه، د ماليې وزارت د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج ملا عبدالقاهر ادريس، د بشري سرچينو رئيس مولوي احمدشاه شاکر، د عوايدو لوی رياست عملياتي مرستيال معراج محمد معراج، د کورنۍ پلټني لوی رياست د شتمنيو د پلټني او ظرفيت لوړوني رئيس شېرزمان بلوچ، د عوايدو او



ګمرکاتو اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او يو شمېر مسئولينو او نويو ګمارل سويو کارکوونکو ګډون کړی وو. د ګمرکونو او عوايدو معين الحاج ملا عبدالقاهر ادريس د دغو مراسمو د پرانيستني په وينا کي د پروګرام له ترتيبوونکو څخه د منني ترڅنګ وويل: دا چي په هېواد کي نظامي جګړه پای ته رسېدلې او اوس اقتصادي جګړه روانه ده، په دې جګړه کي د بريا او وياړ په موخه بايد پلان جوړونه وکړو، نو د داسې پروګرام پيلول نه يوازي تاسي ته د درسپارل سوو دندو د ښه ترسره کولو په برخه کي د مسلکي پوهې د کچې د لوړولو لپاره دي، بلکي د نظام د پياوړتيا لپاره هم اغېزمن تمامېږي. له تاسي څخه دا تمه لرو، هغه څه چي مو په دې برخه کي زده کړي دي، په صداقت او ژمنتيا سره ئې پلي کړئ. غونډه د دعايې په ويلو سره پای ته ورسيده او په وروستيو کي فارغانو ته تصديق پاڼي هم ورکړل سوې.

## په ماليې وزارت کي د سيرت النبي سيالي ترسره سوه

ماليې وزارت کي د سيرت النبي (صلی الله عليه وسلم) سيالي ترسره سوه، چي د دغه وزارت څه باندي ۲۰۰ کارکوونکو پکښې برخه اخيستې وه. په دې سيالۍ کي چي د دغه وزارت خيبرهال کي د يو لړ مراسمو په ترڅ کي ترسره سوه، د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس مولوي عبدالهادي (سيف الخالد) او د دغه وزارت يو شمېر مسؤلينو او کارکوونکو ګډون کړی وو. د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس (مولوي سيف الخالد) د سيرت د ارزښت په اړه په خپلو خبرو کي وويل، د پيغمبر (ص) سيرت د مسلمانانو لپاره ارزښتمند دی؛ ځکه چي دا ځو موخي بشپړوي او يو له هغو څخه ئې پيغمبر ته اقتدا ده، چي د هغه د شخصيت، کارونو، خبرو او تقريرونو له لاري ترلاسه کېږي. نوموړي ګډونوالو ته وويل: موږ بايد خپل ظاهر او باطن له نبوي سنتو سره سم برابر کړو او دا کار تر ټولو لوړ کمال، وروستۍ موخه او د دنيا او آخرت د خير چمتو کوونکی دی. وروسته ګډونوالو ته د ازموينې پاڼې ووېشل سوې او پروسه رسماً پيل سوه. د يادوني وړ ده، چي د ازموينې پايلي به د وزارت د چارواکو، معينانو او رئيسانو په شتون کي د يوې غونډې په ترڅ کي اعلان او د سيالۍ لومړي مقام ګټونکي ته د بست ارتقاء، دوهم مقام ګټونکي ته د قدم ارتقاء او نورو برياليو کسانو ته به ستاينليکونه، کتابونه، قلمونه او نوري جايزې ورکړل سي.




## په ماليې وزارت کي د دولتي شرکتونو د ارزوني درېيم پړاو هم ترسره سو

د دولتي شرکتونو د وضعيت ارزوني په موخه د ماليې وزارت اړوند (افغان ملي بيمې - افغانتور او ازادۍ مطبوعې دولتي شرکتونو) د ارزونو غونډې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله) د ځانګړي استازي مولوي احمد جان بلال په مشرۍ په جلا-جلا توګه د ګمارل سوي کمېټې له لوري په ماليې وزارت کي ترسره سوې. په دې غونډو کي د شرکتونو د تاريخچو، تشکيل، فعاليتونو، پخواني او اوسني وضعيت، ابتدايي پانګو، د ونډه لرونکو د شمېر، بيلانس شيټونو، عوايدو او لګښتونو، ستراتيژيکو پلانونو، مالي، سوداګريز، تدارکاتي، عملياتي او د ظرفيت لوړوني او پراختيايي پلانونو، د پلانونو د پلي کولو پر مخ پرتو ستونزو، د قانوني او اصولي خنډونو او نيمګړتياوو د ليرې کولو لپاره د ترسره سويو کارونو، د پورونو راټولول او ورکولو، د غصب سوو جايدادونو بيا راګرځولو، املاکي او غير اساسي عوايدو، نوي ارزښت ټاکني او د چارو د ښه پرمختګ په موخه د مسلکي کادرونو او افرادو د ګمارني او د شرکتونو د طرحو او پلانونو پر پلي کولو هر اړخيز بحث او خبري وسوې. د يادو شرکتونو په تړاو بايد ووايو، چي **د افغان ملي بيمې دولتي شرکت** چي خلکو ته د بيمې خدمات وړاندي کوي، په وروستيو دوو کلونو کي د سياسي تحولاتو په رامنځته کېدو سره ئې بنسټيز فعاليتونه د شرعي ملحوظاتو له امله په ټپه درېدلي، چي د افغان ملي بيمې شرکت مسئولينو ټاکل سوي پلاوي ته د خپلو وړانديزونو وړاندي کولو تر څنګ، د ثالث شخص د بيمې يا تکافل، د سفر د بيمې، صحي




بيمې، د پروژې د مسئوليت بيمې، د التجاره مالونو بيمې، د متعلمينو او محصلينو بيمې او د کارکوونکو د بيمې لپاره خپلي طرحي شريکي کړې. همدا رنګه **د آزادۍ مطبوعې دولتي شرکت** د افغانستان اسلامي امارت له بيا واکمنۍ وروسته د آزادۍ مطبوعې دولتي شرکت د ماليې وزارت د ۷ ميليونو افغانيو په مرسته د خپلو فعاليتونو د بيا پيل په موخه د ورځپاڼو، جريدو، مجلو، قرآنکريم، بغدادی قاعدې، د دولتي روغتونونو او ستري محکمې د اسنادو، د تخنيکي او مسلکي انسټيټونو د درسي کتابونو او د شخصي مهرونو د جوړولو په برخه کي فعاليت کوي. اوس مهال دغه شرکت د خپلو بنسټيزو فعاليتونو د پيل لپاره لنډ مهاله او اوږد مهاله پلانونه ترتيب کړي، چي په عملي کولو سره به ئې د دولتي او خصوصي اسنادو د چاپ په برخه کي د پام وړ لاسته راوړني تر سترګو سي.

او ورپسې هم **د افغان تور دولتي شرکت** چي د سياحتي خدمتونو، د خصوصي سکتور او خصوصي شرکتونو څارنه او کنټرول، سياحتي شرکتونو ته د جوازونو د ورکړې، د استوګني د تأسيساتو، د سياحتي ټرانسپورټي شرکتونو او انلاين خدماتو دفترونو او په هيواد کي دننه د ګرځندويانو لپاره د خدماتو وړاندي کولو په برخه کي فعاليت کوي، چي موخه ئې په هيواد کي د ګرځندوی او سياحت د صنعت وده ګڼل کېږي. د اسلامي امارت له بيا ځلي حاکميت وروسته د دغي اداري دفترونه په عصري او کمپيوټري ټکنالوژۍ سمبال سوي دي، د بازار موندني په ځانګه کي يې هم خپلي ټولنيزي پاڼې او درې مياشتنۍ مجلې فعالي او سياحتي شرکتونو ته د جواز او خروجي ويزې اخيستنه او د بهرنيو اتباعو د ويزو تمديدول ئې خورا اسانه کړي دي. څرنګه چي د افغان تور دولتي شرکت او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په ځينو کارونو او فعاليتونو کي وظيفوي تداخل شتون لري، ياد شرکت د خپلي اداري اړوند د مسئوليتونو او صلاحيتونو غوښتونکي سول، ترڅو هلته پانګونه وکړي او د لا ډېرو ګرځندويانو او سيلانيانو د جذب له لاري، غوره عوايد را ټول او د دولت خزانې ته ئې وسپاري. په پای کي د ارزوني د کمېټې غړو د يادو شرکتونو د پلانونو پلي کولو په مخ کي د پرتو ستونزو له اورېدو وروسته د حل مناسبي لاري چاري وړاندي کړې.

# په افغانستان کي د پانګوني لپاره موجوده فرصتونه

محمد ضمیر ستانکزی

افغانستان چي د اسیا په زړه کي پروت او په بشپړه وچه کي راګیر هیواد دی، ولي بیا هم د خپل موقعیت او همدارنګه د خپلو بې شمېره طبیعي سر چینو له کبله د ټولي نړۍ پام ورته را اوښتی دی. کورني او بهرني پانګوال هڅه کوي چي په افغانستان کي پانګونه وکړي، خو له بده مرغه په تېرو څلورو لسیزو کي افغانستان په بحراني او جګړه ییز حالت کي وو او د نا امنۍ له کبله هیڅ پانګوال د پانګوني لپاره زړه نه ښه کاوه. که ټولي نا خوالي شا ته پرېږدو ګورو، چي په تېرو دوو کلونو کي د افغانستان د امنیتي وضعیت په ښه والي کي د پام وړ پرمختګ راغلی او په دې هیواد کي پانګي اچوني ته تر هر وخت زیات ضرورت لیدل کیږي او په مخ کي پراته خنډونه هم تر ډېره بریده له منځه تللي دي. خو له دې ټولو لاسته راوړنو او بایللو فرصتونو سره –سره بیا هم ستري ننګوني شتون لري، چي د پانګوني په برخه کي خنډ رامنځته کوي، لکه د اقتصادي ثبات نشتوالی، پر افغانستان باندي نړیوال بندیزونه او د افغانستان د پانګي کنګل کېدل، پر بانکي سیستمونو باندي بندیزونه، په افغانستان کي په اقتصادي سیاستونو کي د پانګي اچوني لپاره د یوې منظمي تګلاري نشتون او ځیني نور عوامل هم تر سترګو کیږي لکه، سیاسي وضعیت، د دولت اقتصادي پالیسي او د هېواد د وګړو د پېر او پلور کمزوري وړتیا هغه مهم عوامل دي، چي پانګوالو ته په اړه اندېښنه ښودلې ده. د دغو ټولو جوانبو، کمبودونو او فرصتونو په پام کي نیولو سره دولت ته اړینه ده، چي داسي تګلاري غوره کړي ترڅو ئې په بدل کي د کورنیو او بهرنیو پانګوالو پاملرنه را جذب کړي او هڅه وکړي چي دغي طبقې ته پوره اسانتیاوي رامنځته کړي. څرنګه چي مو مخکي یادونه وکړه، افغانستان له زېربنایي پلوه یو غني او پر ځان بسیا هیواد دی، خو له بده مرغه کمزوري اقتصادي وضعیت، پردیو لاس وهنو، د ټکنالوژۍ او کاري وړتیا نه شتون، د متخصصو کادرونو تېښته او د کافي مالي امکاناتو نه لرلو، دغه هیواد د درېیمې نړۍ او بیوزله هیوادونو په ډله کي راوستی دی. اوس اړینه دا ده، چي د یادو منابعو په سمه توګه مدیریت وسي د پانګوني فرصتونه رامنځته سي او اوسنی نظام په ځانګړې توګه د پانګوني برخي ته بشپړه او جدي پاملرنه وکړي او همدا راز په سوداګریزه برخه کي له یوه وارداتي هیواد څخه په صادراتي هیواد بدل سي، د ټرانزیټ په برخه کي د نړۍ او د سیمي د هیوادونو په څلور لاري بدل سي. یوه یادونه باید وکړو، تر ټولو مهمه دا ده، چي په افغانستان کي د پانګوني لپاره کومي برخي اړیني دي؟ ترڅو نړیوال او کورني ستر او کوچني پانګوال په دې هیواد کي پانګونه وکړي او دا هیواد کم تر کمه د اقتصادي ځان بسیاینې لپاره حرکت ته چمتو کړي.



**کانونه:**

افغانستان تر ځمکي لاندي د کانونو او زېرمو له نظره ډېر غني هیواد دی، خو له بده مرغه تر دې دمه لکه څنګه چي اړینه ده ګټه نه ده تر ې اخیستل سوې او مخکني هر راغلی نظام د کانونو د استخراج په برخه کي پاتي راغلی. د اسلامي امارت له بیا راتګ سره د کانونو استخراج ته پاملرنه زیاته سوې ده او یو شمېر کانونه د استخراج لپاره خصوصي شرکتونو ته سپارل سوي دي، ولي بیا هم د افغانستان اوسني نظام ته اړینه ده، چي یادي برخي ته په جدي توګه پاملرنه وکړي او په یاده برخه کي بهرنیو او کورنیو پانګوالو ته د پانګوني فرصتونه نور هم برابر کړي، چي په پایله کي کانونه استخراج او هېوادوالو ته کاري فرصتونه رامنځته سي او همدارنګه به د افغانستان په اقتصاد کي مثبت بدلونونه را منځ ته سي.

**زراعت:**

زراعت په افغانستان کي یو له مهمي اقتصادي قوې څخه ګڼل کیږي، چي د هیواد ۷۰٪ خلك وربانـدي بوخت دي او له یادي لاري خپلو کورنیو ته روزي پیدا کوي، همدارنګه کرکېله ده چي د افغانستان په اقتصادي وضعیت کي هم مثبت رول لوبوي. نو مهمه ده چي یاده برخه کي د پانګوني فرصتونه زیات سي، له بزګرانو سره مالي او تخنیکي مرستي وسي، د اصلاح سویو تخمونو لړۍ اوږده سي او تر ټولو مهمه دا ده، چي د اوبو لګولو لپاره ئې یو منظم سیستم او میکانیزم جوړ سي. په دې ټولو کي یوه غوره لاره ئې د بندونو او بندچکونو جوړول دي. د دې ترڅنګ که د افغانستان اوبه مدیریت کړل سي افغانستان به د زراعت په برخه کي ستر انقلاب را منځته کړي او د پردیو له خوسا غنمو او نا کاره توکو به د تل لپاره خلاص سو، حتا تر څنګ به ئې نوري نړۍ ته هم د غنمو او نورو توکو صادرات ولرو.

**لاسي صنایع:**

افغانستان د نړۍ په کچه له هغو هیوادنو څخه شمېرل کیږي، چي د لاسي صنایعو په برخه کي ډېره مخینه او لرغونې تاریخ لري. په تېرو څو لسیزو جګړو او نا خوالو کي لکه څنګه چي نوري برخي زیانمني سوي، لاسي صنایعو ته هم پوره زیان رسېدلی. د افغانستان داسي ډېر ډولونه لاسي صنایع دي چي نړیوال شهرت لري، لکه غالۍ اوبدل، نقاشي، حجاري، نجاري او معماري. که چېري حکومت یادي برخي ته پوره توجه وکړي او د پانګوني فرصتونه ورته برابر کړي، د افغانستان د لاسي صنایعو د فرهنګ د را ژوندي کېدو تر څنګ به کاري فرصتونه هم رامنځته سي، له دې سره به هیواد د پانګوني او اقتصادي وضعیت په برخه کي مهمي لاسته راوړني ولري.

**برېښنا:**

افغانستان که څه هم په وچه کي پروت هېواد دی خو بیا هم داسي د اوبو سرچینې لري، چي کولای سي خپلي اړتیاوي وربانـدي پوره کړي. مونږ داسي سیندونه لرو، چي هر یو ئې کولای سي په لسګونو زره کیلو واټه برېښنا تولید کړي. دا چي افغانستان یو ځل بیا هم د دې سرچینو په مدیریت کي پاته راغلی دی او هر کال په میلیونونه افغانیو دولت ته زیان رسیږي، ځکه مونږ برېښنا نلرو نو مجبوره یو چي د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره له ګاونډیو هیوادونو برېښنا را وارد کړو او خپله اړتیا وربانـدي پوره کړو. او داسي ځیني نوري منابع هم سته چي د هغه په پیدا کولو سره به افغانستان د خود کفایي لوري ته ولاړ سي او د کار فرصتونه به لاهم زیات سي.


# اعلانات داوطلبی

**اعلان داوطلبی تهیه وتدارک پرزه جات UPS دیتا سنتر وزارت مالیه**

یکشنبه ۱۲/٦/۱۴۰۲
وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه تهیه وتدارک پرزه جات UPS دیتا سنتر وزارت مالیه که دارای نمبر تشخیصه ۰٥۷-G/۱٤۰۲/MoF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری ذریعهء فلش مموری یا ایمیل از آدرس ذیل بعد از نشر اعلان الی ۲٤- روز تقویمی(۰۳/میزان/۱٤۰۲) که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفرها می باشد مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.
آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمی شود, تاریخ مشخص آفرگشایی درج شرطنامه می باشد.
تضمین آفر مبلغ ۳۰,۰۰۰ سی هزار افغانی بوده و صرف تضمین بانکی قابل قبول می باشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاورت تدارکات, منزل دوم.
شماره تماس دفتر ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
دوشنبه ۳/۷/۱٤۰۲

**اعلان داوطلبی تهیه و تدارک ۹٦ دانه میز و چوکی مدیریت و ٤ دانه میز و چوکی آمریت ریاست عمومی عواید**

پنجشنبه ۹/٦/۱۴۰۲
وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژه (تهیه و تدارک ۹٦ دانه میز و چوکی مدیریت و ٤ دانه میز و چوکی آمریت ریاست عمومی عواید) دارای نمبر تشخیصیه ۰٦۳-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.
جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۲۱/ سنبله / ۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ۰۳/ میزان/۱٤۰۲ ساعت ۰۲:۰۰ بعد از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۳۰,۰۰۰(سی هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
دوشنبه ۳/۷/۱٤۰۲

**سیستم برق سولری و اعمار اطاق های گمرک پکتیکا**

پنجشنبه ۹/٦/۱٤۰۲
وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(سیستم برق سولری و اعمار اطاق های گمرك پکتیکا) دارای نمبر تشخیصیه ۰٦۱ G/۱٤۰۲/MOF- که به روش داوطلبی باز صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه ، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰٤/ میزان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۲۲٤،۰۰۰ (دوصدو بیست و چهار هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،شعبه اعضای مسلکی تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
یاداشت: آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.
سه‌شنبه ۴/۷/۱۴۰۲

**اعلان داوطلبی تدارک تجهیزات مورد نیاز سیستم اسیکودا گمرکات**

چهارشنبه ۸/٦/۱۴۰۲
وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارك تجهیزات مورد نیاز سیستم اسیکودا گمرکات) دارای نمبر تشخیصیه ۰۳٦-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراك نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.
تاریخ جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲۱/ سنبله/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۲/ میزان/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ٦۰,۲۰۰ (شصت هزار و دو صد) افغانی میباشد.
آدرس:وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
یکشنبه ۲/۷/۱٤۰۲

شتمنۍ SHTAMANAI
اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: حبیب الله خُبیب
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: afghanistanmof @
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)








د ماليې وزارت
د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست

## د بررسۍ ریاست خبرتیا! / اطلاعیه ریاست بررسی!

د بررسۍ ریاست؛ ټولو محترمو سوداګرو ته په ډېر درنښت خبر ورکوي، چې د بررسۍ په ریاست کې د خپلو جوازونو د بررسۍ پروسه بشپړه کړي او د مشر تابه عالي مقام له ځانګړي حکم څخه (چې د مجموعي فروشاتو (۰،۵٪) فیصده د بیت المال خزانې ته سپارل دي) اعظمي او پر وخت ګټه پورته کړي.

ریاست بررسی به اطلاع تمام تجار محترم میرساند، که پروسه بررسی جوازهای خویش را در ریاست بررسی تکمیل نموده و از حکم خاص مقام عالی رهبری ( که سپردن ۰،۵٪ فیصد از مجموعی فروشات شان به بیت المال می باشد) استفاده اعظمی و به موقع نمایند.



www.mof.gov.af
afghanistanmof

# د ګمرکونو لوی ریاست د مرکزي دفتر کارکوونکي له امتیاز پرته یو ساعت اضافه کار کوي



د اسلامي امارت په چوکاټ کې د ګمرکونو لوی ریاست د مرکزي دفتر ټولو کارکوونکو په لیکلې بڼه د یاد ریاست له رهبري سره د هیواد د پرمختګ، کاري چټکتیا، هیوادوالو ته د غوره او پر وخت خدمتونو وړاندې کولو سره ژمنه وکړه، چې سر له نن څخه به له رسمیاتو وروسته هره ورځ یو ساعت اضافه کار کوي. د هیواد په تاریخ کې دغه ډول اقدام یو نېک بې ساری ګام او د ښه راتلونکي زېری ورکوي.
د ګمرکونو لوی ریاست رهبري د خپلو ټولو کارکونکو د دې ملي احساس قدرداني کوي او ټولو هیوادوالو ته خبر ورکوي، چې سر له نن څخه د ګمرکونو لوی ریاست ټولي برخې د مازدیګر تر پنځو بجو پورې د دوی پر مخ خلاصې دي او د دوی ستونزو ته به رسیدنه کېږي.
د یادوني وړ ده، چې اوس مهال د تورخم او اسلام قلعه ګمرکونه (۲۴) ساعته او پاتي نور ګمرکونه ۱٦ ساعته له کوم امتیاز پرته هیوادوالو ته ګمرکي خدمتونه وړاندې کوي او که چیرې سوداګر وغواړي د نورو ګمرکونو فعالیتونه هم (۲۴) ساعته سي د ګمرکونو لوی ریاست چمتو دی، چې د دوی غوښتني ومني.




د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.